ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

گڼه ۲۰

نيټه: شنبه، د ربيع الاول ۲۲ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال








د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه کې تر هر اړخيز بحث وروسته د کانونو او پټروليم وزارت له لوري د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلاره تاييد شوه او کانونو وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د عامه ساتنې له ملي تصدۍ سره د بحث وړ ټکو د حل په موخه ناسته وکړي. د عامه ساتنې ملي تصدي به په ټول هېواد کې د کانونو د ساتنې په موخه ځانګړې شوې قطعه لا پياوړې او منظمه کوي، چې له مخې به يې د غير قانوني او خپلسرو کيندنو مخنيوی وشي.

ترسر شويو سروې ګانو ښودلې چې د افغانستان د کانونو ارزښت مېلياردونو ډالرو ته رسېږي؛ خو په افغانستان کې اوږدمهاله ناخوالو د دې کانونو د استخراج مخه نيولې وه. افغانستان له تېلو، ګازو، اوسپنې، سرو او سپينو زرو نيولې بيا تر قيمتي او نيمه قيمتي ډېرو پورې بېلابېل کانونه لري چې ډېری يې لا تر اوسه نه دي سپړل شوي او هماغسې تر خاورو لاندې پراته دي. که څېرې په تېرو څو لسيزو کې د افغانستان طبيعي زېرمې د حکومتونو تر چتر لاندې په تخنيکي او قانوني ډول راسپړل شوې وای، د نورو د ګټو خوندي کولو پرځای خپلې ملي ګټې پالل شوې وای؛ نو اوس به افغانستان نه له اقتصادي ستونزو کړېده او نه به يې ملت له بدې ورځې سره مخ و. دا د هغو حکومتونو نيمګړتياوې وې چې د ملي ګټو پرځای يې پردۍ ګټې خوندي کولې. په تېر کې نه يوازې دا چې د طبيعي زېرمو د راايستلو له پاره هوډ موجود نه و، بلکې دغه طبيعي زېرمې او کانونه د زورواکو له لوري په غيرقانوني ډول را ايستل کېدل او بهر ته لېږدول کېدل.

اما اسلامي امارت د تېرو حکومتونو برعکس په افغانستان کې يو قوي او مرکزي نظام رامنځته کړ، د څلورو لسيزو ناخوالو ته يې پای ورکړ، امنيت يې ټينګ او د هېواد د مخ پر ځوړ اقتصاد د پياوړتيا او د هېواد بيارغونې له پاره يې د خپلو کورنيو عوايدو پرمټ خپلې هلې ځلې پيل کړې. په دې برخه کې دادی اوس موږ وينو چې په هېواد کې داسې زېربنايي ستړې پروژې پيل او جارې يې رواني دي چې په بشپړېدو سره به يې هېواد د ګرنې په برخه کې د ځان بسياينې تر کچې ورسېږي. د دې ترڅنګ د افغانستان تر څمکه لاندې شتمنې چې طبيعي زېرمې او کانونه دي، په قانوني او مسلکي ډول يې د استخراج او پروسس چارې پيل شوې دي. ددې له پاره چې د تېر په څېر له دې ملي شتمنۍ څخه شخصي ګټه وانخيستل شي، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسيون هغه کړنلاره تاييده کړه چې له مخې به يې د کانونو د خپلسرې او ناقانونه سپړنو مخنيوی وشي او کانونه به په واقعي مانا د حکومت ملکيت وګرځي. له دې سره به له يوه لوري د کانونو ناقانونه استخراج مخه ونيول شي او له بل لوري به په قانوني او مسلکي ډول د کانونو په استخراج سره له دې ملي شتمنۍ څخه د ملي ګټو له پاره کار واخيستل شي. عوايد به يې د هېواد د پرمختګ له پاره ولګول شي او افغانستان به د پرمختګ په لور روان او هم به مو اقتصاد غښتلی او هېوادوالو ته به مو هوسا او پرمختللی ژوند ور په برخه شي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل - شانګهای هوايي دهلېز پرانيسته وکړه



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې تړاو جوړو شوو مراسمو ته وويل، هغه هېوادونه چې له افغانستان سره د دوه اړخيزو اقتصادي او سوداګريزو اړيکو پراختيا ته ژمن دي او زموږ له سوداګرو سره ښه چلند کوي، مننه ترې کوو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، نن چې د افغانستان اقتصادي وضعيت د پرمختګ په لور روان دی دا د سوداګرو او صنعتکارانو د هڅو پايله ده او دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان اقتصادي وضعيت پر بهبود نړی هم اعتراف کوي.

محترم ملا صاحب زياته کړه، د يو هېواد د پرمختګ او ځان بسياينې لپاره امنيت ډېر مهم دی چې له نېکه مرغه په افغانستان کې اوسمهال سرتاسري امنيت تأمين شوی، له همدې امله په کور دننه او بهر کې له مېشت افغان پانګوالو څخه غوښتنه کوو چې راشي او په خپل هېواد کې پانګونه وکړي.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وويل، د افغانستان اسلامي امارت د ګاونډيو، سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د متقابل احترام او تعامل پرښسټ ښې اړيکې غواړي، په ګاونډيو هېوادونو کې د افغان مهاجرينو سپکاوی دوی ته د منلو وړ نه دی او دغه راز يې له يادو هېوادونو څخه د متقابل احترام غوښتنه وکړه.




د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خبرو په پای کې وویل چې په هرات کې د رامنځته شوې زلزلې او د اوښــتو ځاني او مالي زیانونــو د څېړنې او د حالاتو د نېږدې کتلو په موخه به یاد ولایت ته سفر وکړي. همدارنګه له پانګوالو او شتمنو هېوادوالو یې غوښــتنه وکړه چې په دې سخت حالت کې دې د هــرات او شــاوخوا ولایتونو د زلزلــه ځپلو کورنیو لاسنیوی وکړي.

# په هرات او بادغیس ولایتونو کې د زلزلې له امله د زیانمنو شویو هېوادوالو په اړه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خواشینۍ پیغام

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات او بادغیس ولایتونو کې د شوې زلزلې له امله هېوادوالو ته د اوښتو زیانونو په اړه ژوره خواشیني څرګندوي. شهیدانو ته جنت الفردوس، قربیانو ته یې جمیل صبر او زخمیانو ته له الله ج څخه عاجله شفاء غواړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند طبیعي پېښو ته رسېدو کمېسیون غړو وزارتونو او ادارو ته لارښوونه وکړه چې د پېښې ځای ته ژر ځان ورسوي؛ له ټولو شته امکاناتو دې کار واخلي؛ د زیانمنو شویو هېوادوالو لاسنیوی دې وکړي او هر ډول لازمي مرستې دې ورسره وکړي.



# د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا ۷ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۵ بېلابېلې پروژې منظورې شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې وې چې له جملې یې د ۲۵ پروژو قراردادونه منظور او د دوه هغو بیا لغوه شول. منظور شوې پروژې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، مالیې، لوړو زده کړو، اوبو او انرژۍ او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا ۷ میلیارده افغانیو ته رسېږي.

په یادو منظور شوو پروژو کې د پاشدان، شاه و عروس او کمال خان بندونو د پاتې چارو بشپړېدل، په کندهار، بلخ او بادغیس ولایتونو کې خلکو ته د څښاک اوبو رسول، په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د هغوی د اړتیا وړ برېښنا چمتو کېدل، هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.



د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه


ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونيزه

# مکثی بر معادن، حفاظت و استخراج فنی آن

نویسنده: هدایت الله واحدی


## مقدمه

معدن و کار در این بخش به عمل استخراج فنی و ارزشمندی گفته می‌شود، که به وسیله آن می توان سایر بخش های زیربنایی را احداث و یا احیا نمود و به اتکای آن شاهد اقتصاد شکوفا و پویا بود. موادی که از این معادن بەدست می آید، شامل فلزات، زغال‌سنگ، نفت، گاز، سنگ های قیمتی، سنگ آهک، نمک، طلا، نقره، سمنت و سایر مواد معدنی از این قماش می باشد که هر کدام آن ارزشمندی خاصی در تقویت اقتصاد و در نهایت خودکفای همان محدوده های جغرافیایی و جوامع را دارد. منابع طبیعی برای استفاده بشر یک هدیه و نعمت خدا داد است، الله (ج) برای نوع بشر عقل و شعور ارزانی داشته تا توسط آن به صورت درست و در موقع مناسب برای پیشبرد زندەگی خویش از آن استفاده نماید تا باشد زمین به شکل که می خواهیم تعمیر گردد و ساکنان آن زنده‌گی عاری از دشواری ها داشته باشند و در فضای کاملاً مصئون از لحاظ اقتصادی به سر ببرند. خوشبختانه افغانستان کشوری است که منابع بزرگ طبیعی دارد. کشور ما افغانستان از نگاه داشتن معادن و ذخایر با کیفیت غنی بوده و شهرت خوبی دارد، اگر این منابع و معادن به شکل شاید و باید استخراج و پروسس گردد و از آن درست حفاظت شود با جرأت گفته می توانیم که کشور ما به قله های بلند ترقی نایل خواهد شد و مردم ما دیگر نه تنها از ضعف اقتصادی رنج نخواهد برد بلکه در صدر ملت های قرار خواهدگرفت که از لحاظ رفاه و آسایش مانندی نخواهد داشت. از این رو در نوشته حاضر به طور فشرده پیرامون معادن کشور، اهمیت و چگونگی حفاظت و استخراج آن از سوی امارت اسلامی افغانستان مطالبی را جهت ارضای حس کنجکاوی علاقمندان به رشته تحریر در آورده ام.



## فشرده نظری بر معادن افغانستان و ارزش آن

نقش و جایگاهی معادن و صنایع معدنی در اقتصاد تنها منحصر به ازدیاد تولید ناخالص داخلی و رشد اقتصادی نمی شود بلکه نقش بسزای در ایجاد فرصت‌های شغلی و کاهش فقر در کشورها را نیز دارا است. صنعت معدن سهم بارزی در اقتصاد جهانی و یک جایگاه خاصی در زنجیره تأمین منابع مورد نیاز بسیاری از صنایع دارد. معادن می‌توانند روزانۀ امید برای دست‌یابی به آینده درخشان و مبتنی بر زنده‌گی مرفه باشد. نقش معدن و صنایع معدنی در اقتصاد کشورها می‌تواند در تأمین اهداف توسعه پایدار جهان نیز کمک نماید. به هر حال استفاده از منابع طبیعی و استخراج معادن باعث خودکفایی کشور شده و در رشد اقتصاد کشور سهم برازندۀ دارد، معادن افغانستان منبع عواید پولی خوبی را برای کشور تشکیل میدهد. این کشور به نسبت کوهستانی بودنش دارای ذخایر معدنی متنوع و فراوان می باشد. که ارزش آن به ده‌ها تریلیون دالر میرسد. افغانستان از لحاظ معادن غنی می باشد. تحقیقات زمین‌شناسی به اثبات رسانیده است که افغانستان دارای معادن زیادی مانند؛ انواع منرال



ها و سنگ معدنی، حوزهٔ های گازی، نفت، طلا، نقره، لاجورد، لعل، زمرد، کرومیت، زغال‌سنگ، فلزات(آهن، مس، سرب، الومینیم...)، مرمر، یورانیوم، تیتانیوم، لیتیم، نمک، مگنیزیم و قلعی، منرال های قیمتی(کورندوم امیتس توپاز، یاقوت، اکومارین، عقیق سیاه و رنگه، گرانیت، فیروزه، بیرایت، سنگ شاه مقصود) می‌باشد. افزون بر این دارای معادن فلورایت، گچ، چونه، معدن باروت، گوگرد ، سمنت، تباشیر، گانزیت، سنگ سلیت، معدن منرال تورمالین، فلورامیت سنگ رخام و غیره در نقاط مختلف کشور می باشد. در صورتیکه این معادن به شکل فنی و مطابق به معیارهای قراردادی که در دنیا معمول است استخراج، پروسس و حفاظت گردد، منبع عواید خوبی برای کشور می باشد، چنانچه امارت اسلامی با درک این حقانیت در حدود ۲۰۰معدن بزرگ، متوسط و کوچک کشور را طبق اصول معاملات پذیرفته شده به قرارداد سپرده و عملاً کار استخراج و پروسس آن جریان دارد، که از این ناحیه عواید هنگفتی داخل خزانه حکومت گردیده و در راستای اعمار و آبادنی سایر بخش های زیربنایی از آن استفاده می شود.



## امارت اسلامی به استخراج فنی و حفاظت معادن متعهد است

تردیدی نیست که جنگ ها، نابسامانی ها ، فساد و اشغال در دو دهه گذشته اثرات سؤ را در همه عرصه ها به ویژه در سکتور اقتصادی از خود به جا گذاشته است. لیکن امارت اسلامی افغانستان با تعهد که در برابر کشور و ملت دارد، همیشه در پی آن است تا روزنه های را برای داشتن یک اقتصاد قوی دریابد تا به وسیله آن مردم ما که سال های متمادی بالای گنج خوابیده اند ولی بدون گنج اند، منبعد با استفاده از این تحفه های خدا دادی دیگر زجر ناتوانی را نکشند و زمینه هایی را که در شرایط کنونی می تواند، اقتصاد افغانستان را تقویت بخشد، توسعه داده و از عواید آن در همه عرصه ها به خصوص بخش های اقتصادی بهره مند، اقتصاد افغانستان شکوفا و افغانستان در هر بخش خودکفا گردد، از این رو امارت اسلامی در پهلوی توجه به سایر بخش ها در عرصهٔ معادن و ذخایر طبیعی جهت رشد، توسعه و ثبات اقتصادی که در آن رفاه همگانی نهفته است فعالیت های چشمگیری را انجام داده است، امارت اسلامی سرمایه گذاری در بخش استخراج و پروسس معادن را به شکل مسلکی و فنی از مکلفیت های اولی خود دانسته و تا اکنون تقریباً کار ۲۰۰معدن مختلف را آغاز نموده است. مطالعات جیوفزیکی ده ها معدن دیگر تکمیل گردیده و بر تطبیق آن کار عملی جریان دارد، که برخی از این معادن عبارت اند از حوزه نفتی دریایی آمو، مس عینک لوگر، چهار بلاک معدن آهن غوریان هرات، سرب تولک غور، معدن طلای سمتی ولایت تخار، معادن زمرد پنجشیر، کرومایت لوگر، طلای زرکشان غزنی، گچ وردک، زغال سنگ درهٔ صوف سمنگان، معدن زغال سنگ بلخآب ولایت سرپل، زغال سنگ هرات، استخراج و پروسس نمک، زغال سنگ بامیان، احجار قیمتی ننگرهار، ذخایر گازی ولایت جوزجان می باشد به همین شکل استخراج و پروسس سایر معادن مختلف در ولایات گوناگون آغاز گریده است، که این مسئله مبین تلاش های امارت اسلامی در راستای کار خلاقانه جهت بهبود وضعیت اقتصادی کشور بوده که در آن رشد، توسعه و ثبات اقتصادی میسر است، حکومت و مردم می توانند به وسیله این کار بنیادی به امروز و فردای مملو از خوشبختی بنگرند و مالک یک اقتصادی متکی بر پایه های وسیع باشند.

همچنان امارت اسلامی فرصت های را برای سرمایه گذاری داخلی و خارجی در بخش معادن به وجود آورده است. چنانچه سرمایه گذاران می توانند در فضای کاملاً امن و عاری از فساد در موجودیت حکومت مسوول و حمایت کنندهٔ سرمایه گذاری سرمایه گذاری نمایند. زیرا سرمایه گذاری به عنوان یک قوهٔ محرکه رشد اقتصادی، لازمه نیل به توسعه اقتصادی و اجتماعی است. افزایش سرمایه گذاری منجر به افزایش تولید گردیده و به ارزش می افزاید و سبب افزایش عواید، بلند رفتن سطح رفاه، ازدیاد اشتغال، کاهش نرخ بیکاری و کاهش فقر می شود. با توجه به اهمیت معادن، ارزش قرارداد های امضا شدهٔ امارت اسلامی در بخش معادن تا کنون به ارزش ۷ میلیارد دالر میرسد که نشاندهندهٔ کار خارق العاده در زمینه متکی بودن به عواید داخلی، رشد و



توسعه اقتصادی و بیلانس یا ثبات اقتصادی در آیندهٔ می باشد. طبعاً در معادن که کار آغاز گردیده به هزاران تن مصروف کار می باشند و با شروع شدن پروسه استخراج و پروسس سایر معادن و منابع طبیعی تعدادی کثیری از شهروندان ما به کار گماشته خواهند شد و با این حال سطح بیکاری کاهش، عاید سرانه افزایش، مواد خام هنگفت برای فابریکه ها و کارخانه ها مهیا می گردد، کشور به سوی صنعتی شدن منتهی می شود، همچنان جهت حفاظت و جلوگیری از استخراج غیرقانونی و فنی معادن در جلسهٔ نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بعد از غور و بررسی همه جانبه طرزالعمل حفاظت از معادن که از سوی وزارت معادن و پترولیم تهیه و ترتیب گردیده بود، تائید شد و به وزارت معادن وظیفه سپرده شد تا به منظور حل نکات مورد بحث با ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه نشست داشته باشد. ریاست عمومی محافظت ملی جهت حفاظت از معادن کشور، قطعه اختصاص داده شده را در سراسر کشور تقویت و منظم سازد، تا از استخراج غیر قانونی و خود سری جلوگیری شود. همچنان در این نشست به شرکت انکشاف ملی و اداره ملی ستندرد وظیفه سپرده شد تا تیست های کیفیت سمنت غوری و جبل السراج را بار دیگر انجام دهد و گزارش خود را در ظرف پنج هفته جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی ارسال دارد. همچنان به گفته‌ی شیخ شهاب الدین دلاور وزیر معادن و پترولیم، امارت اسلامی به شفافیت و مسلکی گرایی در بخش معادن متعهد است و عواید معادن در اجرای پروژه‌های ملی به کار گرفته می‌شود. این تلاش‌ها واضح می سازد که امارت اسلامی جهت حفاظت و جلوگیری از استخراج و پروسس غیر قانونی و غیر فنی معادن متعهد است و در این راستا جدی است. تا باشد از بابت عواید معادن، کشور و ملت ما به مدارج عالی ترقی نایل گردد.



## نتیجه گیری

بدون شک همانطوری که گفته شد، بهره برداری فنی و مسلکی، جلوگیری از استخراج غیر قانونی و حفاظت از معادن یک ضرورت انکار ناپذیر در توسعه اقتصادی کشور است. داشتن حجم عظیم معادن و توجه به رشد و گسترش این بخش، سبب تقویت اقتصادی، رونق حمل و نقل و ترانزیت می شود، از سوی دیگر اشتغال در معادن رشد اشتغال در مناطق محروم را به دنبال دارد. معادن در جهان امروزی از اهمیت بسزای برخوردار است و یکی از زیربنا های مستحکم اقتصادی در جهان محسوب می شود. افغانستان نیز از جمله کشور های است که سرشار از منابع زیر زمینی می باشد و این کشور از نگاه داشتن معادن در منطقه بی نظیر است و با ارزش ترین معادن را در خود جا داده است. یگانه منبع عواید که بتواند در دراز مدت افغانستان را از وضعیت بد اقتصادی نجات دهد، همین معادن است. امارت اسلامی با درک عمیقی از این حقیقت تلاش می کند تا معادن کشور را مطابق به اصول و معیار های قبول شده به قرارداد بسپارد و به شکل مسلکی استخراج نماید، که تا کنون اضافه تر از ۲۰۰معدن را به این روش جهت خودکفایی اقتصادی کشور به قرارداد سپرده است و در حصه حفاظت آن و جلوگیری از استخراج غیر قانونی معدن تدابیر مقتضی را روی دست گرفته است. چنانچه در جلسهٔ نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بعد از غور و بررسی همه جانبه طرزالعمل حفاظت از معادن که از سوی وزارت معادن و پترولیم تهیه و ترتیب گردیده بود، تائید شد و به وزارت معادن وظیفه سپرده شد تا به منظور حل نکات مورد بحث با ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه نشست داشته باشد. ریاست عمومی محافظت ملی جهت حفاظت از معادن کشور، قطعه اختصاص داده شده را در سراسر کشور تقویت و منظم سازد، تا از استخراج غیر قانونی و خود سر معادن جلوگیری شود. که این موضوع مبین تلاش و تعهد امارت اسلامی در راستای محافظت از معادن کشور و جلوگیری از استخراج غیر قانونی آن می باشد، که به این وسیله می توان از معادن کشور خود حفاظت نمود و با استخراج فنی آن امیدوار به آینده مملو از سعادت بود، که این آرمان تنها در موجودیت یک حکومت مستقل، خدمتگذار و شفاف امکان پذیر است.



# د خوراکي او نورو توکو کیفیت کنټرول په برخه کې د ۱.۱ له لوري ترسره شویو کارونو ته ځغلنده کتنه

لیکوال: امان الله «حنیفي»

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د خپلې اړتیا وړ ډېری خوراکي او نور توکي له بهرنیو هېوادونو واردوي. دا کار په داسې حال کې کېږي چې افغانستان په کور دننه په هره برخه کې د اړتیا وړ توکو د تولید پرېمانه سرچینې لري. موږ یې د بېلګې په ډول د غنمو وارداتو ته اشاره کولای شو. افغانستان په کلنۍ ډول شاوخوا شپږ میلیارد مېټریک ټنه غنمو ته اړتیا لري، چې په دې برخه کې تر څلورو میلیاردو مېټریک ټنو زیات له بهرنیو هېوادونو واردوي. په داسې حال کې چې خپله پراخې لویې شاړې دښتې او پرېمانه اوبه لري. که د دغو اوبو د راګرځولو لپاره په مناسبو ځایونو کې بندونه جوړ شي او تر لاندې شاړې لویې دښتې خړوبې او غنم پرې وکرل شي، نه یوازې دا چې د خپلې اړتیا وړ غنم به په کور دننه تولید کړي، بلکې د غنمو په برخه کې به د ګاونډیو او د سیمې هوادونو ته صادرات هم ولري. خو دا اوبه چې ارزښت یې په کلنۍ ډول میلیاردونو ډالرو ته رسېږي، په وړیا ډول نورو هېوادونو ته بهېږي. همداسې دغه ستونزه د درملو، نفتي توکو، ګازو او نورو مختلفو توکو په برخه کې هم در واخلئ.

افغانستان هر کال په میلیاردونو ډالر د خوراکي توکو، درملو، نفتو او د خپلې اړتیا وړ توکو پوره کولو په موخه بهرنیو هېوادونو ته ورکوي، چې دا چاره هر کال د هېواد اقتصاد ته لویه صدمه رسوي. نه یوازې دا چې په میلیاردونو ډالر نورو هېوادونو ته ترې ځي، بلکې له هغو هېوادونو د وارداتي توکو د بې کیفیتۍ له وجې یې هر کال په زرګونو انسانان په بېلابېلو ناروغیو اخته کېږي او د نفتي توکو د کیفیت د خرابوالي له امله یې چاپېریال هم ورځ تر بلې خرابېږي.

له لسیزو راهیسې د وخت حاکمو نظامونو د وارداتي توکو کیفیت ته توجه نه ده کړې، نه په دغه برخه کې کوم پلان نیول شوی او نه هم د دې ستونزې د حل په موخه کوم اساسي ګام اخیستل شوی. ښایي د ډېرو نورو علتونو ترڅنګ د دې ستونزې یو علت اشغال او د پردیو له لوري تپل شوي نظامونه وي. خو له نېکه مرغه واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دا ټولې ستونزې حل شوې دي. په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی، خپلواک- مستقل- اسلامي نظام حاکم شوی او د فساد پر وړاندې جدي مبارزه شوې ده.

اسلامي امارت د واردېدونکو خوراکي او نورو توکو د بې کیفیتۍ ستونزه په ښه ډول درک کړې ده او د حل په موخه یې جدي ګامونه اخیستي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري په دې اړه په وار وار ځانګړې مجلسونه نیول شوي او د جدي کنټرول سپارښتنه یې شوې ده. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د امنیتي ارګانونو او اړوندو وزارتونو په ملتیا د خوړو او درملو او همدا راز د نورم او ستندرډ ملي ادارو ته دنده سپارل شوې، څو د هېواد په ټولو بندرونو کې د واردېدونکو خوراکي توکو، درملو او نفتو د کیفیت د تضمین په موخه خپل لابراتوارونه د منل شوو معیارونو په پام کې نیولو سره فعال کړي.

له همدې هدایاتو سره سم د خوړو او درملو او ستېنډرډ ملي ادارو په ټولو بندرونو کې لابراتوارونه فعال کړي، د ټولو خوراکي او نورو توکو د کیفیت لپاره یې معیارونه ټاکلي او د هماغو معیارونو له مخې اجراآت کوي.

د خوړو او درملو ملي اداري د معیاري وارداتو لپاره یو جامع طرزالعمل جوړ کړی، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شوی هم دی. دوی ټولو سوداګرو او د درملو واردوونکو شرکتونو او په کور دننه د درملو تولیدوونکو فابریکو ته لار روښانه کړې او هغوی یې مکلف ګرځولي چې د همدې طرزالعمل مطابق به واردات او تولید کوي. که سوداګر او یاد شرکتونه او تولیدي فابریکې له دې طرزالعمل سرغړونه کوي، مجرم پېژندل کېږي او د فعالیت جواز به ترې اخیستل کېږي. د خوړو او درملو ملي اداره هېڅ ته اجازه نه ورکوي چې په خپل سر خوراکي توکي او یا هم درمل هېواد ته وارد کړي، دوی باید د خوړو او درملو ملي اداري پر



ټاکل شوو معيارونو برابر وي او د همدې معيارونو په نظر کې نيولو سره واردات او توليد وکړي. موږ وينو چې هره ورځ په ګمرکونو کې په لسګونو ټنه بېلابېل خوراکي توکي او درمل چې کيفيت يې پر معيار برابر نه وي، ببرته هماغه هېوادونو ته مستردېږي، چې په دې سره د ډېرو ناروغيو، د بيو د لوړوالي او فساد مخنيوی شوی دی. پخوا به په همدې خوراکي توکو او درملو کې زهري او نشه‌يي مواد راتلل چې له امله به يې زموږ هېوادوالو ته مختلفې ناروغۍ پيدا کېدلې.

همدې ته ورته د ستنډرډ ملي اداري په ټولو بندرونو کې خپل لابراتوارونه فعال کړي او شپه ورځ فعاليت کوي. دوی هغو نفتو او ګازو ته هېڅ اجازه نه ورکوي چې کيفيت يې په ټاکل شوو معيارونو برابر نه وي. موږ هره ورځ وينو چې په لسګونو ټانکرونه تېل او يا هم ګاز ببرته له دې وجې چې کيفيت يې پر معيار نه وي برابر، هماغه هېوادونو ته مستردېږي. د دې ګام په اخيستو سره د تېلو او ګازو په برخه کې د مافيايي کړيو لاس لنډ شوی، فساد ختم شوی، د نقليه وسايطو د ژر خرابېدو مخه نيول شوې او همدا راز د چاپېريال خيال هم ساتل شوی دی.

د خوراکي او نورو توکو د کيفيت د تضمين په برخه کې پر دې سربېره د هېواد په ټولو بندرونو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو لپاره د لازمو تعميرونو پر جوړولو کار روان دی او د هغوی لپاره پر ټولو اسانتياوو برابر کمپلکسونه په پام کې نيول شوي. همدا راز د خوړو او درملو او ستنډرډ ملي ادارو ته لاربښوونه شوې څو خپل کارکوونکي د ورتياوو لوړولو په موخه بهرنيو هېوادونو ته د زده کړو لپاره ولېږي او په خپلو لابراتوارونو کې له پرمختللې ټکنالوژۍ استفاده وکړي.

اسلامي امارت هڅه کوي چې يو پر ځان بسيا او د پياوړي اقتصاد لرونکی افغانستان رامنځته کړي، داسې چې له ګاونډيو، د سيمې او نړۍ هېوادونو سره پياوړې او پراخې سوداګريزې او ترانزيتي اړيکې ولري.



# د بهرنيو اسعارو بيې

## د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۵,۱۵ | ؋۷۵,۲۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۶۲ | ؋۲۶۳ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۵۳ | ؋۱,۵۵ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۸۰,۵۰ | ؋۸۰,۰۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۱,۲۰ | ؋۱,۳۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۹۸۰ | ؋۱۰۲۰ |
| ۱ | انګليسي پوند | ؋۹۲,۵۰ | ؋۹۲,۰۰ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۲۳,۵۵ | ؋۲۳,٦٥ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲٤,۳۰ | ؋۲٤,٤۰ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱٦,۵۰ | ؋۱٦,٦۰ |